مقاله
21
النبأ
181

يقاتلون أهل الإسلام ويظاهرون أهل الأوثان

# له مسلمانانو سره جنګېږي
# د بت پرستانو مرسته کوي

پښتو ژباړه: مؤسسة المناصر الإعلامية

AL MUNASIR

بسم الله الرحمن الرحيم

# له مسلمانانو سره جنګېږي د بت پرستانو مرسته کوي

په دې سربېره چې په دې ورستیو کلونو کې کومې پېښې واقع شوې لا تر اوسه هم بعضې خلک د اسلامي دولت او القاعدې د تنظیم تر منځ د دښمنۍ په حقیقت نه پوهېږي، او اوس هم د اسلامي دولت په اړه د ناکاره علماوو هغه خبره مني چې د اسلامي دولت په اړه ظلم او زیاتی کوي د دې په خاطر چې په دوی باندې د خوارجو ټاپه ونښلي له ځانه یې خبره پسې جوړه کړې چې ګویا اسلامي دولت مسلمانان وژني او بت پرستان (کافران) پرېږدي، تر څو پدې توګه د اسلامي دولت د مجاهدینو سره جنګ او د هغوی د مجاهدینو وینې تویول خلکو ته روا کړي.

دا دښمني یواځې په هغو مخالفتونو باندې بناء نه ده چې د شرعي سیاست له پلوه د القاعدې او د هغوی د ځانګو د مشرانو له خوا ترسره کېږي، او نه دا خبره یواځې په عقیدوي مسائلو کې د دوی په ګمراهیو پورې منحصره ده چې د هغه چا د اسلام د حکم په اړه یې لري چې په ښکاره ډول شرکي کړنې ترسره کوي، له مړیو څخه خپل حاجتونه غواړي، له الله پرته نور شریعت جوړونکي مني، د ستر الله له را لیږل شوي حکم پرته حکمونه کوي، او هغه څه چې په همدې خبره بناء دي بیا له هغه چا سره دښمني کوي او غلوو کونکي او خوراج یې بولي چې دې مشرکینو ته کافران وایي، په دې ټولو سربېره د القاعدې مختلفې ځانګې په خپله د مرتدو ډلو په

ښکاره موالات او دوستۍ کې واقع دي او د اسلامي دولت د جنګياليو مسلمانانو په ضد د مرتدينو ملاتړ او مرسته کوي.

دا اوس دوی وينو چې په هر ځای کې يې وس بر شي د اسلامي دولت مجاهدين وژني، او له دوی سره د مرتدينو په شان معامله کوي ټپيان يې وژني، د مالونو سلب کول يې ځانونو ته روا بولي، او يا يې له منځه وړي، جسدونه يې په دښتو او سړکونو کې غورځوي، په عين وخت کې بيا هغه مختلفې ډلې او طائفې چې دوی د هغوی په کفر اقرار کوي د دوی په منځ کې ښه په عزت او اکرام سره ژوند کوي، دا خو لا څه آن تر دې چې د همدې خلکو ملګرتيا کوي او د مسلمانانو په ضد يې مرسته کوي.

مونږ دا خبره په ښکاره توګه د دوی د شام په هغه څانګه کې چې مشري يې مرتد جولاني کوي او دارنګه د دوی په ځينو هغو مرتدو ورونو کې چې د خراسان له القاعدې څخه راغلي په ښکاره توګه ليدلي چې د شام په شرقي سيمو کې د مجلس العسکري له مرتدينو او د هيئت الارکان اړوند هغو ډلو سره د اسلامي دولت په خلاف ملګري شوي چې دوی يې هم په کفر باندې اقرار کوي همدا رنګه دوی دا ملګرتيا له دوی سره د شمالي حلب په باندو او اطرافو کې هم کړې نو له مسلمانانو سره وجنګېدل او د بت پالو کافرانو مرسته يې وکړه.

په ليبيا کې مو هم د القاعدې هغه څانګه چې د المغرب د القاعدې تر څارنې او مشرۍ لاندې ده وليده چې، د مرتدينو ملګرتيا يې وکړه او په ډاګه يې د طرابلس له مرتد حکومت څخه خپله ولاء او ملاتړ اعلان کړ نو له مسلمانانو سره وجنګېدل او بت پال کافران يې پرېښودل.

په یمن کې هم د دوی ځانګه مونږ لیدلې او وینو یې چې په قیفه او نورو ځایونو کې زمونږ د ورونو په خلاف د قومي جرګه ګیو (چې د عدن د مرتد حکومت اړوند دي) سره څنګ په څنګ بلکې دا خو لا څه کوې چې د دې مرتدو کمېټو مشران یې خپل دوستان او د مسلمانانو سره د جنګ په مشرۍ ومنل، دا له هغې وروسته چې کله یې مشرکینو ته ښارونه تسلیم کړل تر څو هغوی د کفر حکمونه ورباندې پلي کړي له دوی سره یې له جنګه لاس واخیست او له مسلمانانو سره وجنګېدل او د بت پالو کافرانو مرسته یې وکړه.

همدا شان لکه څنګه چې په خراسان کې د دوی ورونه هغه طالبان چې د القاعدې ټولې ځانګې د دوی تر بیرغ لاندې داخلې دي، په زابل او نورو ځایونو کې یې د روافضو د نصرت او کومک په خاطر مجاهدین ووژل دا ټول له هغې وروسته چې د روافضو او نورو مشرکو طائفو سره یې د وطنیت تر عنوان لاندې د خپلې دوستۍ اعلان وکړ او له خراسان بهر یې له طواغیتو او مرتدینو سره د بین المللي سولې تر عنوان لاندې جوړه وکړه او له مسلمانانو سره وجنګېدل او د بت پالو کافرانو مرسته یې وکړه.

او کومې ځانګې او جنګیالي یې چې پاتې دي هغوی بیا په شام، یمن، خراسان او صومال کې د دې مرتدو تنظیمونو او په لیبیا او نورو ځایونو کې د هغوی له پیروانو سره دوستي لري، ځانونه او هغوی ورته یوه ډله ښکاربري، د دوی په خاطر له خلکو سره دوستي او له خلکو سره دښمني کوي، او د اسلامي دولت له مجاهدینو سره په هره شخړه او جګړه کې د هغوی ننګه کوي او له دې ووسته دوی خپلې هغه سیمې چې په خوښه یې مرتدینو ته

وسپارلې هڅه کوي چې اسلامي دولت په هغه ځمکه باندې ولکه ونه کړي چې د الله قانون ورباندې پلی شي، نو په دوی ټولو باندې هغه خبره چې دوی يې په اسلامي دولت پورې تړي ډېره ښه نښلي چې دوی وايي اسلامي دولت مسلمانان وژني او کافران پرېږدي دوی خو يوازې په دې هم بسنه نه ده کړې چې مسلمانانو سره وجنګېږي او کافران پرېږدي بلکې له کافرانو سره يې د دوی په دين کې د مسلمانانو په خلاف د هغوی ملاتړ کړی.
اسلامي دولت -لوی الله يې دې په خپل نصرت سره ونازوي- د مسلمانانو څخه د هغه چا وينه تويوي چې الله تعالی يې وينه تويول روا کړي او په چا چې حد جاري شوی وي او يا دا چې مفسد فی الأرض (په ځمکه کې فساد کونکی) او يا هغه څوک وي چې د مسلمانانو د جماعت په خلاف يې خروج کړی وي او غواړي له هغې وروسته مسلمان تيت پرک کړي چې په يوه سړي باندې راغونډ شوي، او د بت پالو کافرنو سره جنګ يې د يوې ورځې لپاره هم هېڅکله نه دی پرېښئ، دا خبره خو ټولو خلکو ته ښه څرګنده ده، هغه که مسلمانان دي او که کافران چې الحمدلله اسلامي دولت له ټولو کافرانو او مشرکينو سره داسې جنګېږي لکه کافران  او مشرکين چې څنګه له دوی ټولو سره جنګيږي، او د تاريخ په اوږدو کې د کفري ملتونو دا لوی اتحاد او يوالی چې د دوی په خلاف جوړ شوی پدې خبره  يواځينی څرګند دليل دی.
نو د دې ځينو مسلمانانو وژنه يې د دين له وجې کړې چې د الله تعالی حکم يې په دوی باندې پلی کړی او دا کفري ملتونه او مشرکين هم د الله د اطاعت د پاره وژني چې هغه ورته امر کړی چې ويې وژنئ، او د القاعدې مرتدين او د هغوی وروڼه بيا د اسلامي دولت مجاهدين او د هغوی انصار

په ظلم او تېري باندې وژني او د ډیموکراسۍ د دین پیروانو مشرکینو صحواتو او اربکیانو سره جوړه او روغه د خپلې ګمراهۍ او ظلم له وجې کوي تر څو په یوه صف کې سره راټول شي.

OOO

.

مؤسسة المناصر الإعلامية

شعبان ١٤٤٠ هـ